# د علامه اقبالرح
# د فارسي منظومو اثارو پښتو ژباړې او ژباړونکي

ډاکټر عبدالرؤف رفيقي

**Abstract:** This paper tends to collaborate the innovative dimensions of the impacts of Allama Muhammad Iqbal's philosophical notions on the contemporary Pashtoon poets of the region. It also prob the peculiar diction and philosophical discourse on the position of human in the universe that has been linked to the classical connotation of contextualizing reality. It narrates that, the study of Iqbal has gradually evolved and its has found it worthy positions in the works of Pashtoon society and literature.

د شرق ستر نابغه علامه محمد اقبال چې د خپل هڅاند فکر او ژور نظر له کبله په نړيوالو ادبياتو کښې د يوۀ لوړ نامه څښتن دی. د دۀ د فکري بنسټ بېلا بېلې منابع وې چې په هغو کښې دۀ د شرق او غرب د نوميالیو، منورينو، پوهانو او مفکرينو د مطالعې پس يو شمېر نتيجې ترلاسه کړې. د اقبال په دغه فکري اتلانو کښې يو شمېر افغاني او پښتانۀ نوميالان وو. لکه مولانا جلال الدين بلخي رومي، مولانا جامي، حکيم سنائي غزنوي، سيد جمال الدين افغاني، خوشحال خان ختهك، شېرشاه سوري، احمد شاه بابا، محمود غزنوي، حضرت علي هجويري او داسې نور يو شمېر نوميالي شامل دي.

اقبال چې کله د شرق او د غرب د علومو د مطالعې پس د عالمِ انسانيت حالت بالعموم او د عالمِ اسلام حالت بالخصوص وسنجاوۀ نو ډېر رنځ ئې واخيست. فکر ئې وکړ چې څۀ ډول بايد خلقو او ملت ته اسانتياوي وربرابري کړي. او څۀ ډول د هغوئ و دردونو ته درمل پيدا کړي. په دغه درملنه هغه و امت ته يو شمېر لارښووني وکړې. دغه لارښووني په خيالي او تصوراتي خبرو نه وې سپړې بلکې د مځکني حقايقو سره ئې ډېر ژور تعلق درلود. همدغه وجه وه چې د نړۍ خلقو د اقبال فکري مسلك قبول کړ.

اقبال پېژندنه دا وخت یو نړیواله موضوع ده. د نړۍ په بېلابېلو ګوټو کښې میشت د بېلابېلو قامونو په بېلا بېلو ژبو کښې د اقبال په فکر او فن باندې ورځ په ورځ نوې څېړنې کېږي. تراوسه پورې د اقبال په باب د چاپ شوو کتابونو شمېره زرونو ته رسېږي.

د اقبال په فکر او فن باندې د خبرېدو دپاره د دهٔ شاعري اوله منبع ده. ځکه نو د نړۍ په بېلو بېلو ژبو کښې د اقبال د شعري ټولګو ژباړې په ځانګړې خو البته په ځينو ځايونو کښې په بشپړه توګه شوې دي.

په ځينو ژبو کښې ئې د يوې او نيمې خو په ځينو ژبو کښې ئې د زياترو ټولګو منظومې ژباړې شوي دي.

"د دغه ژبو په بهير کښې پښتو هم هغه يوه ژبه ده چې د اقبال د درست اردو او فارسي کلام بشپړه منظومې ژباړې په کښې شوي دي. حتٰی په ځينو ځايونو کښې خو په پښتو کښې د اقبال د يوې يوې شعري ټولګې تر يوې هم زياتې منظومې ژباړې شوي دي".(1)

"د دې وجه بنايي دا ده چې اقبال له پښتنو سره مينه درلوده. د خپل غوره کردار، لوړو اخلاقو، عمل، سخت جانۍ او سخت کوشۍ له کبله پښتانهٔ پر دهٔ ډېر ګران وو. په خپل کلام کښې اقبال د پښتنو د دغه صفتونو ځائ پر ځائ يادونه کړې ده. څنې ځايونو خو ئې د پښتنو ستاينه ببخې په ډاګه کړې ده. البته ځينو ځايونو بيا په ځانګړې توګه". (2)

د پښتنو خوئ و خاصيت او ملي مشاهيرو ته ئې په درنه سترګه کتلي دي. نهٔ يواځې دا بلکې د اقبال په فکر باندې افغانيت ډېره درنه او توده اغېزه او اثر شندلی دی چې له کبله ئې د ځينو نړيوالو پر اقبال باندې ببخې د افغان ګمان کېدهٔ. هم دغه سبب ؤ چې پښتنو د خپل د دغه غمخور د لوئ شخصيت د دهٔ په ژوند کښې لاوپېژاندهٔ.

"د اقبال په ژوند کښې لا د اقبال د کلام منظومې پښتو ژباړې پيل شوې".(3)

د اقبال د ټولو منظومو آثارو پښتو منظومې ژباړې و شوې. د يوې يوې شعري ټولګې ئې بېلو بېلو شاعرانو ژباړې وکړې. تر څو و خپل دغه نړيوال شخصيت ته د خپلې بې کچې مينې ثرګندونه وکړي.

دلته لومړی د اقبال د فارسي کلياتو په لړ کښې د هغۀ پر پښتو ژباړو او پښتنو ژباړونکو يو ځغلنده نظر اچوو.

په دغه کلياتو کښې د اقبال دغه شعري ټولګې شاملې دي.

اسرار خودي، رموز بېخودي، پيام مشرق، زبور عجم، جاوېدنامه، پس چه بايد کرد، اې اقوام مشرق، مع مسافر، ارمغان حجاز.

**اسرارِ خودي**: "اسرارِ خودي د اقبال د فارسي شعر هغه ټولګه ده چې لومړی ځل په 1915ء کښې چاپ شوه". (4)

اسرارِ خودي د اقبال د نړيوالې نظريې "خودي" هغه په زړۀ پورې فارسي شعري اثر دی چې د اقبال د افکارو او نظرياتو د خورولو دپاره ئې لومړنۍ تېره کښېښوه او هسې هم اسرارِ خودي د اقبال د شاعرۍ لومړنۍ ټولګه وه چې د خودۍ اصطلاح ئې نړيوالو ادبياتو ته وړاندې کړه.

"خودي په انګرېزي کښې د EGO په عربي کښې د من يا انا په معنا کښې راځي او د پښتو اصطلاح ئې ځان پېژندنه جوړېږي". (5)

دا هغه شيطاني خودي نه ده چې د هوس کينې او بغض څخه عبارت ده بلکې علامه د مولانا بلخي رومي پر پلۀ روان له انسانانو څخه د عرفانِ نفس دپاره د تسخيرِ قوت، قاهري او جابري غواړي ترڅو د انسانه څخه بې عملي او سستي وکوچېږي او هغه په الهي صفاتو وپسولل شي او د آدميت و معراج ته ځان ورسوي. هغه په دې چې جلال و جمال او قاهري و دلبري لازم او ملزوم دي. د معنويت په لحاظ خو خورا درانۀ او دقيق مطالب په ځان کښې لري.

پر اسرارِ خودي باندې څۀ وئيل يا د اسرار خودي په نظريه باندې رڼا اچول زما رنګه لوستونکي دپاره ډېره درنه خبره ده او زما د محدودې علمي سويې د وس خبره نۀ ده.

د اسرارِ خودي پښتو منظومه ژباړه ملك الشعراء سمندر خان سمندر کړې ده چې د پاکستان پبلیکېشنز کراچۍ له خوا چاپ شوې ده. د ژباړې کال ئې 1954ء مطابق 1373هـ ق ده.

"د سمندر خان سمندر په ژباړه کښې د نورو ژباړو څخه بېل ما ته یو جلا خوند او کیفیت محسوسېږي. هغه داسې چې دا تشه لفظي ژباړه نۀ ده بلکې فکري او معنوي ښکلا ئې پر هنري ښکلا غالبه شوې ده. دغه بدلون په دغه ښکلا کښې دومره اضافه کړې چې ژباړه نۀ ایسي بلکې یو طبع زاد شعري اثر برېښي. په دې هم چې د اقبال درانۀ او ژور نظریات د خودي د نکتو د سپړلو په باب د فکري یون په دغه کړاؤ کښې د بېلا بېلو کړلېچونو څخه تېر شوی دی. زما په خیال دا به مبالغه نۀ وي نۀ به د بې ځایه ستاینې په لیکه کښې راځي بلکې دا به د سمندر صاحب د صلاحیتونو اعتراف وي که زۀ دا ووایم چې د سمندر په چپه به ګورو چې چا دغه ژباړې ته دومره خوندور پسول ورسپارلی وای اقبال اسرار خودي په لنډ مثنوي بحر کښې کښلې خو سمندر خان ولې چې په پښتو شاعري کښې د عروضو استاذ ګڼل شوی دی دۀ د همدغه غښتلي وصف له کبله ئې خورا په ماهرانه انداز په اوږدۀ بحر کښې په معرٰی انداز باندې ژباړه سر ته رسولې ده".(6)

"پیکر هستي ز آثار خودي است :: هرچه می بینی ز اسرار خودی است
خوشتین را چون خودی بیدار کرد :: آشکار عالم پندار کرد
صد جهان پوشیده اندر ذات او :: غیر او پیداست از اثبات او
سازد از خود پیکر اغیار را :: تا فزاید لذت پیکار را ::
میکشد از قوت بازوی خوش :: تا شود آگاه از نیروی خویش" (7)

ژباړه: "ورته ګوره د خودۍ نه د دنیا ګرم بازار دی
د خودۍ رازونه سپړي ترجمان د ساز هر تار دی
چې خودي شوه را بیدار او دې وکړې غزونې
راښکاره ئې یو جهان کړو د پوهنې ځان ښینې
جهانونه جهانونه پټ پراتۀ د دې په ذات کښې
دا ډېر څۀ را پیدا کړي جل ئې شته دی په اثبات کښې

دې جهـــان پـــه دشـــمينو بـــس پـــه چـــل و لړلـــو
چـــې لـــه ځانـــه ئـــې ځـــان بېـــل او يـــو پـــردی څيـــز و ګڼلـــو
دا پـــه خپلـــه لـــه خپـــل ځانـــه د پـــرد وجـــود پيـــدا کـــړي
چـې جنـګ تـود شـي خونـدي واخلـي او سـره دا خپلـه خـوا کـړي
کلـــه دا پـــه زور د مټـــو وژلـــل کانـــدي لـــه دې نيتـــه
چـــې ځـــان و تلـــي خبـــر شـــي لـــه خپـــل زور او لـــه قوتـــه" (8)

سـمندر خـان سـمندر د خپلـې دغـې ژبـاړې د فکـري او معنـوي ارزښـته ډك دغـه اسـلوب تـر پايـه پـه پرلـه پسـې انـداز جـاري سـاتلی دی خـو ځـایٔ پـر ځـایٔ چې ئـې ضـرورت محسـوس کـړی نـو د کـوم بيت لاندې ئـې لفظي ترجمـه هم کړې ده مثلاً:

"چشـم اهـل ذوق را مـردم شـوم :: چـون صـدا درگـوش عـالم گـم شـوم" (9)

ژباړه:

"چـــې ذوق د خاونـــدانو د زړٔ ســـر د ســـترګو تـــور شـــم
چـې يـو غـږ شـم د رازونـو د دنيـا پـه غـوږ کښـې خـور شـم" (10)

د پـورتني فارسـي بيـت د لانـديني معنـوي او فکـري ژبـاړې عـلاوه لفظي ژباړه داسې کوي:

"چې پـه نـوې جسـتجو کښـې پـه مـخ تـګ وي تونـدر سـا شـم
چـــې د نـــوې آرزوګـــانو ســـره ځـــهٔ لکـــه اشـــنا شـــم" (11)

اقبـال ځـایٔ پـه ځـایٔ د خپلـو بيتونـو د وضـاحت او سـپيناوي دپـاره اشـاره هـم ليکـي خـو ډېـر لـږ ځايونـه او پـه خـورا مختصـر انـداز د سـمندر خـان د ژبـاړې يـوه ښـيګڼه دا ده چـې د اقبـال د ځينـو شـعرونو د وضـاحت دپـاره د ژبـاړې پـه چپـه ګويـا حاشـيه هـم ليکلـې ده لکـه اقبـال يـو ځـایٔ د آنحضـرتﷺ په مدحه کښې وايي:

"مـن چـه گـويم از تـو لايـش کـه چيسـت :: خشـك چـوبی در فـراق او گريسـت" (12)

سمندر خان دغه ژباړه داسې کوي:

"د هغــه مينــه کــوم څيــز دی درتــه څــۀ ووايــم ګلــو
د هغــۀ پــه بېلتانــۀ کښــې وچ لرګــی هــم ژړېــدلو" (13)

ســمندر لانــدې داســې ليکــي وايــي چــې: "دا جماعــت د کــوټې يــوه د لرګــي ســتن وه هغــې تــه بــه دوســت د خــدایﷺ تکيــه لګولــه. يــوه ورځ هغــه ستن بدلولې کېده ناڅاپه هغې ستنې فرياد وکړو". (14)

د اسـرارِ خـودي د منظـوم پښـتو ژبـاړونکي سـمندر خـان سـمندر و ژونـد ته لنډه کتنه کوو.

"سـمندر خـان سـمندر د منصـورخان پـه کـور کښـې د جنـوري پـر لـومړۍ نېټـه پـه کـال 1901ء کښـې وزېږېـدی. دی هـم د نوشـهرې د بدرشـو د کلـي اوسـېدونکی ؤ. پـه ختـه سـلمانخېل غلجـی ؤ نيکـه ګـان ئـې د قنـدهار څخـه بدرشو ته راغلي وو". (15)

پـه کـور بانـدې د ښځـي لومړنيـو زده کـړو پـس ئـې تـر څلـورم ټـولګي پـورې زده کـړې وکـړې لـېکن د دۀ خـود داره طبعيـت پابنـدي نـۀ منلـه خـو پـه هرحـال تـر اتمـه ئـې زده کـړه وکـړه. د چپړاسـي پـه حېث ئـې دولتـي وظيفـه پيـل کـړه بيـا ئـې ټانګـه چلولـه د دې پـس ئـې د انګرېزانـو پـه ضـد مبـارزه کښـې برخـه واخسـته. د همـېش خليـل پـه قـول چـې د خوشـحال خـان ختـک او کـاظم خـان شـيدا پـس سـمندر خـان سـمندر هغـه لـومړی شـاعر دی چـا چـې خپـل پـام و عروضـي شـاعري تـه واړاوۀ. د عربـي او فارسـي مروجـه عروضـو کښـې ئـې غزلې او نظمونه وليکل.

"پـه 1948ء کښـې د پښـتو پـه عـالمي مشـاعره کښـې چـې د پېښـور پـه عجائـب ګهـر کښـې وشـوه پـه متفقـه ډول و دۀ تـه د ملـك الشـعراء خطـاب ورکړل شو او په 1943ء کښې ئې په رېډيو کښې وظيفه ترلاسه کړه".(16)

"څلوېښــت کالــه ئــې دلتــه خــدمت وکــړ پينځــۀ پنځــوس کتابونــه ئــې وليکــل. د پاکســتان د دولــت لــه خــوا څخــه و دۀ تــه تمغــه امتيــاز او تمغــه حسن کارکردګي ورکړل شوه". (17)

"سـمندر خـان سـمندر د جنـوري پـر اولسـمه نېټـه پـه کـال 1990ء کښـې په حق ورسېدی"(18)

سمندر خان ربنتیا هم د پښتو شعر سمندر ؤ. په پینځهٔ پنځوس آثارو کښې ئې زیاتره د شاعرۍ کتابونه وو. اسرارِ خودي د ذات او نفس د عرفان څخه د حق تر پېژندنې پورې پړاؤ کړی دی. چې څهٔ ډول فرد په ملت کښې ورکېدلی شي او څهٔ ډول د خپل شخصي توان په لاس راوړلو سره د اسلامي ښېګړې د ټولنې دپاره د خیر برکت او پرمختګ ګړندي ګامونه پورته کولی شي. د خودۍ لرې چې په یوه ډله یا جماعت ورګډېږي داسې وي لکه یو څاڅکي چې د یوهٔ دریاب سره ملاؤ شي او هلته نو نوره هېڅ وړی کېږي.

په رموزِ بې خودي کښې د میاست مظاهر او رویه اسرار خودي کښې د مذهب عناصر زیات دي خو د دواړو منزل یو دی. رموز بې خودي اصل د ملت اسلامیه ژوند د اسرار او تشریح ده.

د مثنوي اسرارِ خودي ماخذ قرآن کریم او د مولانا جلال الدین رومي مثنوي ده. دا پر ........ نظریه عمومي تصوف، تفسیر او تشریح ده. ځکه ئې خودي هغه د ذات او ........ عرفان دی کوم چې د افرادو او قامونو د ژوندانه ضامن وي. کوم چې انسان د مادي او روحاني مدارجو و څوکو ته رسول کېدای شي. اسلام هم دغه غواړي چې د هر چا خودي ته یواځې قاعده وي بلکې د ارتقا ملکونه دې را پرې کړي. څو یو داسې مقام ته را ورسېږي کوم چې د ده یواځې د دهٔ تقدیر وي بلکې د تقدیر قاضي و انسان ته د هغهٔ د تقدیر پر ځائ د هغهٔ خوښه و پوښتي چې وایه کنه څو به ستا تقدیر ولیکم.

د اقبال سره ئې ډېره مینه درلوده د اسرارِ خودي او رموزِ بېخودي منظومې پښتو ژباړې ئې کړې وې. او زما په خیال سمندر خان سمندر چې خپل مشهور کتاب "د توحید ترنګ" چې د کلمه طیبه لااله الاالله محمد رسول الله په تفسیر یې ولیکئ چې د شعرونو څلور شپېته زره بیته دي. د دې کتاب بنیادي اثر او تحریك ئې د اقبال د فکر څخه اخستی دی دا ځکه دهٔ بادې دغه اثر هغه وخت ولوېدی چې دهٔ پښتو شعر کښې "اسرارِ خودي" او رموز بې خودي" ژباړله.

"معاصر نقاد پروفېسر نواز طائر و دغه تتکته ته "د توحيد ترنګ" په لومړينو مخونو کښې اشاه کړې ده چې دا کارو سللاکين او صفقياوو شعرا او په ډول سمندر د توحيد ترنګ ليکلی دی".(19)

"د اسرارِ خودي يوه بله منظومه پښتو ژباړه د پښتو نامتو شاعر جعفر شاه رښتوني هم کړې ده". (20)

بلې هو دا هغه جعفر شاه رښتونی دی چا چې د الٰهي کلام قرآن کريم پښتو منظومه ژباړه هم کړې ده.

**رموزِ بېخودي**: "رموزِ بېخودي لومړی ځل په 1918ء کښې چاپ شو". (21)

"رموزِ بېخودي د علامه د اسرارِ خودي د مثنوي دويمه برخه ده. اقبال د دې ښوولو کوشش کړی دی چې څهٔ ډول د ذات او نفس د پېژندني يا د عرفان پس بنده د حق تر عرفانه پورې منزلونه را پرې کوی شي. او څهٔ ډول فرد په ملت کښې د ورکېدو سره خپل شخصي توان د ملت په ګټه اچولی شي. کله چې د ټولنې هر وګړی ټولنه له هره اړخه پر مخ بيايي نو بيا خودي په بېخودي کښې ځلا مومي. علامه د خودي او بې خودي پر دقيقو مسايلو د صوفياوو د فکري بنسټ څخه ګټه ترلاسه کړې ده. د هغه مسيحيايي د خودۍ او بې خودۍ ملت ته د ګډ عمل په نتيجه کښې و انسان ته د برياليتوب لار ښوولې ده. د ازل پر ځائ د ابد د تسخيرولو مرام ورښوولی دی. د دغه تسخير دپاره چې ئې د کوم دستورالعمل وړانديز کړی دی په هغو کښې ئې فرد او جماعت دواړه يو د بل دپاره لازم او ملزوم بللي دي".(22)

"رموزِ بېخودي د قرآني معارفو او اسلامي حقايقو تشريح ده. د قامي انا راز دی، د علم الحيات او عمرانياتو درس دی. د فرد له جماعته سره ربط رحمت دی او د هغه جوهر د ملت کمال دی. جماعت هغه کليت دی په کوم کښې چې افراد د اجتماع د مقاصدو ساتونکي جوړ او خپلي خودۍ د اجتماع د بېخودۍ سره وصل کوي. د اقبال په وړاندې ملت بحر ذخار دی په کوم کښې چې هرڅهٔ شته. دا کوم هر شي چې خودي لري او د هغهٔ وجود د بېخودۍ د څپېز بحر برخه جوړوي". (23)

په اسرارِ خودي کښې د ذات او نفس د عرفان څخه د حق تر عرفان او پېژندني پورې پړاوونه په ګوته شوي دي. چې څۀ ډول فرد په ملت کښې ورکېداى شي او څۀ ډول د خپل شخصي توان په لاس ته راوړلو سره د انساني ښېګړې او ټولنې دپاره د خير او برکت او پرمختګ ګړندي ګامونه پورته کولى شي. د خودى لړى چې کله په يوه ډله يا جماعت ورګډېږي داسې وي لکه يو څاڅکى چې له دريابه سره مل شي او هلته نور د هغه درياب برخه وګرځي. شخصي خودي چې کله په ګډه خودي ورګډه شي نو نوره هم پياوړې کېږي.

"په رموزِ بېخودي کښې د سياست مظاهر او په اسرارِ خودي کښې د مذهب عناصر زيات دي. خو د دې دواړو منزل يو دى. د رموزِ بېخودي اصل د ملتِ اسلاميه د ژوندانۀ او اسرارو تشريح ده".(24)

د مثنوي اسرارِ خودي ماخذ قرآن کريم او د مولانا جلال الدين بلخي رومي مثنوي ده. په ګوسپندي نظريه عجمي تصوف او د وحدة الوجود د توحيد منونکو په ضد يو زورور ضرب دى. دغه ټوله مثنوي د خودى تفسير او تشريح ده. ځکه چې خودي هغه د ذات او نفس عرفان دى کوم چې د افرادو او قامونو د ژوندانۀ ضامن وي. کوم چې انسان د مادي او روحاني مداريجو و څوکو ته د رسولو ذمه په خپله غاړه اخلي. اسلام هم دغه غواړي چې د هر انسان خودي ئې نه يوائې قائمه وي بلکې د ارتقاء منزلونه دې راپرې کړي. تر څو يوۀ داسې مقام ته راورسېږي چې د دۀ نه يوائې تقدير وي بلکې د تقدير قاضي و انسان ته د هغه د مطلق تقدير د ليکلو پر ځائ د هغۀ څخه پوښتنه وکړي چې وايه کنه، ستا څۀ خوښه ده؟ تقدير دې څنګه وليکم.

د رموزِ بېخودي منظومه پښتو ژباړه هم سمندر خان سمندر کړې ده. د ژباړې کال ئې 1952ء دى. چې لومړى ځل د پاکستان پبليکېشنز کراچې له خوا چاپ شوې ده. د سمندر خان سمندر د دغې ژباړې اسلوب هم هغه د اسرارِ خودي اسلوب دى. زما په خيال هغه ټولې ښېګړې په اسرارِ خودي کښې په ګوته شوې کومې چې د ژباړې په خوندورو ځانګړتياوو کښې راتلې. د هغو

بیـا بیـانول بـه د تکـرار عـلاوه هـېڅ معنٰـی و نـۀ لـري. ځکـه سمدلاسـه د رمــوزِ بېخــودي د اصــل مــتن او د ســمندر خــان د منظــومې پښــتو ژبــاړې څــۀ نمــونې وړاندې کوم چې تاسو په خپله هم د دغه طبع زادې ژباړې څخه خوند واخلئ:

تــــارك آفـــل بـــراهیم خلیـــل :: انبیـــا را نقـــش پـــائی او دلیـــل
آن خــــدائے لـــم یـــزل را ایتـــی :: داشـــت در دل آرزوئـــی ملتـــی
جـوئی اشـك از چشـم بیخـوابش چکیـد :: تـا پیـام طهـرا بیتـی شـنید
بهـــر مـــا ویرانـــه آبـــاد کـــرد :: طائفـــان را خانـــه بنیـــاد کـــرد
تــا نهــال تــب علینــا غنچــه بســت :: صــورت کــار بهــار مــا نشســت
حــق تعــالی پیکــر مـــا آفریــد :: وز رســالت در تـــن مـــا جـــان دمیــد
حرفـی بـی صـورت انـدرین عـالم بـدیم :: از رسـالت مصـرع مـوزون شـدیم" (25)

ژبــــاړه: د افلـــو بربښـــېدونکی ابـــراهیم د خـــدائ خلیـــل دی
چـــې ئـــې پـــه ســمه لاره پلـــوه و نبیـــانو تـــه دلیـــل دی
خــدائ بــه تــل وي دا خلیــل ئــې یــوه نخښــه د قــدرت وه
او ارمـــان د دۀ پـــه زړۀ کښـــې د یـــو ښـــۀ پـــتن ملــت وه
دواړه سـترګې ئـې تـل روانـې نـۀ ئـې خـوب نـۀ ئـې آرام وۀ
چـــې طهـــر بیتـــی راغلـــو د الله ځینـــې پیغـــام وۀ
دۀ زمـــونږ د خیـــر دپـــاره ورانـــه شـــاړه کـــړه ابـــاده
دۀ طـــواف تـــه د قـــامونو د خـــدائ خونـــه کـــړه بینـــاده
چـــې اخیـــر د تـــب علینـــا بـــوټي شـــولو ســـترګې ســـترګې
زمـا زمـونږ د سـپرلي بـاد کـړو بـاغ د ګولـو سـترګې سـترګې
پـاك الله تــه وه منظـوره جـوړه ئـې غونـډه سـتا زمـا کـړه
چـې ئـې جـوړ د ملـت نـن کـړو رسـالت ئـې ورتـه سـاه کـړه
وو دنیـــا کښـــې خـــوارۀ تـــوري نـــه مطلـــب نـــۀ اوازونـــه
رســالت داســې یــو ځــائ کــړو لکــه وي مصــرع موزونــه" (26)

دلته غواړم چې د سمندر خان سمندر و آثارو ته لنډه کتنه وکړو.

* د الـم څوکـه * لیـت او لاړ * د قـرآن ژړا * خـوږه شـپېلۍ * رڼـا * بلـې ډېـوې * تـار او شـاباز * د بـلال بانـګ * ګلکـر * تماشـې ننـدارې * خـوږلن *

کوزه کښې سمندر * علم * پت * د توحيد ترنګ (لس توکه) * د يثرب غم * درونِد پښتون * اسرار خودي* او رموز بېخودي منظومې پښتو ژباړې.

**نثري چاپ اثار**: * کاروان روان دی* خبرې* لوګېدلی ژوند* پښتنې* ژور سمندر* اوښکې سمندر* قافيه* تشبيه* استعاره* لس خزانې* زما ژوند.

**پيامِ مشرق**: د علامه مشهور منظوم فارسي اثر "پيامِ مشرق" لومړی ځل په لومړۍ مئ 1923ء له چاپه راووت. له ما (رفيقي) سره ئې د لومړي چاپ هغه نسخه پرته ده کومه چې علامه په خپل لاسليك په دا بله ورځ يعنې دويمه مئ 1923ء و سر نواب ذوالفقار علي خان ته وړاندې کړې وه.

پيامِ مشرق علامه د الماني شاعر ګويټه د پيامِ مغرب په جواب کښې وکيښ او دغه ځواب د غرب په علمي فضا کښې هم هنګامه را پيدا کړه. ګويټه هغه ختيځ پوه ؤ چې د خواجه حافظ شيرازي، شيخ فريد الدين عطار او سعدي شيرازي څخه ډېر متاثر ؤ. کله چې ئې په 1812ء کښې د حافظ د ديوان ژباړه په الماني ژبه کښې چاپ شوه نو د المان په ادبياتو کښې د شرق تهذيب څرك وواهۀ. د ګويټه د ديوانِ مغرب محرك د حافظ ديوان شو. خو د دۀ پر فن باندې حافظ خورا په آب و تاب جلوه ګر دی. و بلې خوا ته اقبال بيا د ګويټه د ديوانِ مغرب ځواب په پيامِ مشرق ووايه. چې موخه ئې د هغو اخلاقي، ملي او مذهبي حقايقو سپړلو د کومو تعلق چې د افرادو او بيا وروسته د اقوامو د باطني تربيت سره ؤ.

په پيامِ مشرق کښې څۀ دي؟ د شرق دغه ځلاند لمر و شرق او غرب ته د خپل فکر کومي وړانګې د پيام په ژبه وړاندې کړې. د عالمِ اسلام د دغه ستر حکيم د خوارۀ وارۀ ځپلي ملت دپاره د بيا رغونې او نشاة الثانيه دپاره کوم پيغام وړاندې کړ. له پښتنو سره د اقبال څومره هيلې تړلې وې چې د پيامِ مشرق تړون ئې د افغانستان د غښتلي او زړور پښتانۀ پاچا امان الله شاه غازي سره وکړ. په لومړني انتسابي ابياتو کښې ئې و امان الله شاه غازي ته څۀ اند ښنې درلودې. دغه ځانته جلا بحث دی. که ما د خپل ليك د لوري ملوني نه راونيولې نو په سوونو څۀ چې په زرونو پاڼي به توري شي"(27)

د پيامِ مشرق منظومه پښتو ژباړه شېرمحمد مينوش کړې ده. چې لومړی ځل د اقبال اکاډمۍ له خوا د پېښور د پښتو اکېډمي په مرسته په 1963ء او دويم ځل په جنوري 1983ء کښې چاپ شوه. مينوش صاحب په دغه ژباړه کښې خورا زيات زيار ګاللی دی. تر خپله وسه ئې په ژباړه کښې د ښو ښو سوچه پښتو تورو په استعمال سره د خپلې ژباړې پسول ورزيات کړی دی. تر ډېره حده په دغه هڅهٔ کښې بريالی شوی دی. لږ ځير شئ د اقبال و اصل فارسي متن او د هغهٔ پښتو ژباړې ته: پيش کش بحضور اعليحضرت امير امان الله خان فرمانروائی دولت مستقله افغانستان خلد الله ملکه و اجلاله.

ژباړه: پيش کش په حضور کښې د اعليحضرت امير امان الله خان
خان د افغانستان د مستقل دولت فرمانروائ خلد الله ملکه و اجلاله

اې امير کامگار ای شهريار
نوجوان د مثل پيران پخته کار
چشم تو از پرد گيا محرم است
دل ميان سينه دات جام جم است
عزم تو پائيده چون کهسار تو
حزم تو آسان کند دشوار تو
همت تو چون خيال من بلند
ملت صد پاره را شيرازه بند " (28)

ژباړه: اې اميره! اې کامياب شهرياره!
په ځوانۍ کښې د بوډا هسې هوښياره!
ستا نظر د هر يو راز وينم محرم
په سينه کښې دې زړګی دی جام د جم
اراده دې پائنده لکه د غر
هره ګرانه کړې په پوه باندې سحر
ستا همت زما د خيال رنګې بلند
د دانه وانه ملت کاندې پيوند " (29)

د پیامِ مشرق د پښتو منظومې ژباړې شاعر شېرمحمد مینوش د ژوند لنډ حال او آثار په دې ډول دي.

"شېر محمد مینوش د صوابۍ تحصیل په ترلانده د فروري په 17 مه نېټه 1903ء کښې د ظهور الله په کور کښې وزېږېدی. لومړۍ زده کړې ئې په کلي کښې تر سره کړې او د پنجاب پوهنتون څخه ئې ابس وي تر لاسه کړه. ديني کتابونه ئې پر مولانا عبدالحکیم باندې ووئیل".(30)

مینوش په ختېه منډڼ ؤ او د شاعرۍ پیل ئې د لوست د زمانې څخه کړی ؤ. لومړی تخلص ئې بسمل ؤ. د مردان په افغان مجله کښې ئې نظمونه خپرېدل او د پښتو په تکړه شاعرانو کښې شمېرل کېدهٔ. مینوش صاحب په محکمه تعلیم کښې مدرس ؤ او وروسته له هغه ځایه ریټائر شو.

"د اقبال د افکارو څخه ډېر متاثر ؤ د همدغه ذوق او شوق له کبله ئې د اقبال زیاترو کتابونو منظومې ژباړې کړې دي چې په هغه کښې "پیامِ مشرق" او ضربِ کلیم چاپ شوي دي". (31)

د پورته یاد شوو دوو کتابونو په څېر د همېش خلیل د قوله چې مینوش صاحب د "بانګِ درا" او "زبورِ عجم" ژباړې هم کړې وې. مینوش د دغو ژباړو په وخت کښې خپله هم د اقبال د شعر څخه په خپل شعر کښې اثر قبول کړی ؤ.

د مینوش صاحب خپله شعري ټولګه "تصوراتِ مینوش" نومېږي. د اقبال د پورته ذکر شوو چاپي ژباړو او دوو ناچاپه ژباړو په څېر مینوش صاحب د اقبال د "بالِ جبریل" او "جاوېد نامې" ژباړې هم په پښتو ژبه کړې وې چې تر اوسه نهٔ دي چاپ شوې.

"له دې علاوه مینوش صاحب د غالب د دیوان هم منظومه پښتو ژباړه کړې وه. مینوش صاحب د اکتوبر په اتمه نېټه 1977ء کښې په حق ورسېدی". (32)

**زبورِ عجم**: زبورِ عجم لومړی ځل په جون 1927ء کښې له چاپه راووت. زبور د داؤد علیه السلام د اسماني صحیفې نوم دی. چې د برخو یا ټوټو

په معنا دی. د اقبال کلام د غزل د برخو بڼه د تورو په قید کښې بنده شوه. د شرق د وګړو د اصطلاح سپېڅلي مقصد دپاره ډېره په زړه پورې اصطلاح کار کړې ده. په لومړۍ برخه کښې ئې په غوره انساني تخيل کښې د انسان هستي څۀ ده. د شرق د راپاڅولو د ولولو ډك نظمونه ليکلي دي. ګلشنِ رازِ جديد، د حيات اسرار، د فرد د نوي ډول په تعليم سره د خودۍ د اسرار ياد تازه کېږي. په بندګي نامه کښې ئې د محکوميت د سپيتانو يادونه سرې په لړز راولي. لومړۍ برخه عشق دی، دويمه برخه دعوت. د عشق حقيقت د کبريايي شان هينداره ده. په دويمه برخه کښې د اقبال هغه بې قراري څرګندېږي کومه چې تل مدام دی د بني نوع انسان د حقيقت و منزل ته د رسولو دپاره بې قراره ساتلی دی.

په دغه کتاب کښې د اقبال عالي افکار د دۀ مابعد الطبعياتي نظريه او د دۀ د مشهورې فلسفې خودي په باب دقيقې نکتې لوستونکو ته په لاس ورولي. پرته له دې زبورِ عجم د اقبال د وحدة الوجود او نورو تصوفي نظرياتو په باب خورا غني څرګندوني لري.

د دغه کتاب پښتو منظومه ژباړه سيد تقويم الحق کاکاخېل کړې ده. چې لومړی ځل د پښتو اکېډمي پېښور په مرسته د اقبال اکېډمي له خوا په 1961ء کښې او دويم ځل په 1983ء کښې له چاپه راووته.

مولانا عبدالقادر صاحب په پېژندګلوي کښې د اقبال اکادمي د هغه وخت د کالخوا په ممتاز حسېن سره د اقبالياتو د منظومو ژباړو د عمل و سر ته د رسېدلو بېخي لومړي معلومات را يو ځائ کړي چې په پښتو شاعري کښې په څۀ ډول مونږ د اقبال د کلام خپلې ژبې ته اړولو تابيا وکړه. دغه ژباړه ځائ په ځائ طبعزاد معلومېږي او ژباړونکی د اقبال په کلام کښې داسې ډوب شوی دی چې پر ژباړه ئې د سړي د اصل تخليقي کلام خيال کېږي دغه راز ئې د هنري ښکلا سره سره د اقبال د فکر د بحر څخه معنوي ګوهر هم را برڅېره کړي. مثلاً د پښتو په معروف قافيه "هسې" کښې يو شمېر کلاسيکو شاعرانو غزلې ليکي، تقويم

الحق صاحب د اقبال يوه قافيه "چنين" په هسې را ژباړلې او ډېر خوند ئې په کړې دی چې د سړي د ژباړې خيال نۀ پر راځي. لږ ورته ځير شئ.

"فصل بهار اين چنين بانګ هزار اين چنين
چهره کشا غزل سرا باده بيار اين چنين
اشك چکيده ام ببين هم به نګاه خود نګر
ريز به نيسان من برق و شرار اين چنين" (33)

ژباړه: "رنګ رنګ د بلبلو نغمې فصل بهار هسې
لر کړ پرده وايه غزل ورك کړه خمار هسې
خپلو مستو سترګو او زما اوښکو ته ګوره
او وره زما په زړګي برف و شرار هسې" (34)

"خواجه از خون رګ مزدور ساز و لعل ناب
از جفائې ده خدايان کشت دهقانان خواب
انقلاب انقلاب اې انقلاب" (35)

ژباړه: "وينې د مزدور ورکړه و لاله ته لعل ناب
ظلم د مالك کړو د هقاني پټې خراب
انقلاب انقلاب اې انقلاب" (36)

"په پښتو کښې د زبور عجم يوه بله ژباړه شېر محمد مينوش مرحوم هم کړې ده چې تراوسه نۀ ده چاپ شوې" (37)

"په 22 دسمبر 1952ء کښې د اسلاميا تو د پروفيسر په حېثيت ئې دولتي وظيفه ترلاسه کړه. د صوبه سرحد په بېلا بېلو کالجونو کښې د استاذ او پرنسپل په حېثيت پاته شوی دی. بيا پروجکيټ ډائريکټر شو". (38)

د نوموړي د چاپي او ناچاپو آثارو نومونه:

" (1) زبورِ عجم، (د علامه اقبال د فارسي کتاب پښتو منظومه ژباړه)
(2) پس چه بايد کرد. (3) مسافر.. (4) مخزن تحقيق او مقدمه.

(5) ديوان کامګار خان ختـک دويـم اشـاعت (مقدمـه او تشـريحات، تسـنيم الحـق کاکاخېـل سـره پـه شـريکه) (6) پښـتو ګرائمـر (انګرېزي نـه پښـتو ترجمه) (7) ديوان علي خان (شرح او مقدمه) (8) بنيادي حقيقتونه.

**ناچاپ اثار**: (1) تاريخ امت. (2) د پښتو ژبې او ادب تاريخ"، (39)

د زبـورِ عجـم پښـتو منظومـه ژبـاړه سـيد تقـويم الحـق کاکاخېـل کـړې ده. د دهٔ ژوند او آثار په دې ډول دي:

**جاوېـد نامـه**: جاوېـد نامـه لـومړی ځـل پـه 1932ء کښـې لـه چاپـه راووت، جاوېد نامـه د اقبـال هغـه پـه زړهٔ پـورې اثـر دی چـې اقبـال تـه پـه نړيوالـو ادبيـاتو کښـې اوچـت مقـام وروبخښـی او اقبـال ئـې د تـل دپـاره پـه ادبيـاتو کښـې جاويدان پاته کړ.

پـه جاوېـد نامـه کښـې اقبـال د اسـلامي تصـوف، حقـايقو او معـارفو دقيـق رازونـه سـپړلي دي. دانتـې د ابـنِ عربـي فتوحـاتِ مکيـه د اسـلامي معـراج نـامې پـه اثـر 600 کالـه پـس (comedy Divine) وکښـه. تـر څـو پـه خپـل تخيلـي معـراج د مشـاهداتو پـه ذريعـه د خپلـي زمـاني پـر علومـو او فنونـو تبصـره وکـړي. عـين د دانتـې د مـرګ 600 کالـه وروسـته اقبـال جاوېدنامـه وکښـه. ګويـا د ابـن عربـي د فتوحـات مکيـه او د دانتـې د comedy Divine پـس جاوېـد نامـه پـه نړيوالـه کچـه هغـه درېـم شـعري فکـري اثر دی کوم چې د معراج په روايت ليکل شوی دی.

جاوېـد نامـه د علامـه د شـاعرانه کمـالاتو او فلسـفيانه خيـالاتو غـوره بېلګـه او د ژوندانـهٔ حاصـل دی. پـه هنـري توګـه د جاوېـد نـامې رنـګ د دهٔ لـه نـورو آثـارو څخـه جـلا دی. پـه کـوم کښـې چـې دهٔ پـه يـوهٔ اوږدهٔ تمثيلـي نظـم کښـې د افلاکـو سـير کـړی دی. حتٰـی د خـدایٔ پـاک سـره ئـې هـم ملاقـات شـته. د فلسـفيانه نظـم بـاوجود پـه جاوېدنامـه کښـې ادبـي لطافتونـه شـته. پـه کـلام کښـې ئـې پوخـوالی، خوږلـت، روانـي، سـوز و ګـداز موجـود دی. و فلسـفيانو مبـاحثو تـه ئـې د غـزل لطيفـه پېرايـه غـوره کـړې ده. علامـه پـه حيـات کښـې دوام وينـي، د عشـق او جهـاد بلنـه ورکـوي. ځوانـانو تـه د انقـلاب راوسـتلو

لارې چارې ښيي او په فکر ئې د سنائي، عطار، رومي، جامي او عراقي د کلام د اثر جلوه تر سترګو کېږي.

جاوېد نامه اقبال د خپل فکري يون د دغه پړاؤ حال په کومو کيفياتو کښې ليکلى دى د روح د دريـاب ګـوهر، د معنويت د تـل ملغلري، د هنر د درياب دغه غوټه شوي اوباز څومره په غښتلي انداز رابرڅېره کړي دي او په دغه توګه ئې و خپلو افکارو ته څۀ ډول د تل دپاره دوام وربخښلى دى.
استغفرالله، زۀ د جاوېد نامې په مقام پوه يم؟ زۀ خو په خپل علمي قامت خبر يم. د جاوېدنامې په وړاندې زما سويه څۀ ده چې پر وکاږم.

د جاوېد نامې منظومه پښتو ژباړه د پښتو غزل بابا امير حمزه خان شينواري کړې ده چې د پښتو اکېډمي پېښور په مرسته د اقبال اکېډمي له خوا لومړى ځل په 1967ء او دويم ځل په جنوري 1983ء کښې چاپ شوه.

امير حمزه خان شينواري هم د جاوېد نامې په ژباړه کښې ډېر شواخون ګاللى دى د پښتو سوچه خوندور توري ئې ډېر په ښکلي انداز د اقبال د فکر معنويت په لاړ پېيلى دى. ځاى په ځاى ئې د محاورو په استعمال د خپلې دغې ژباړې هنري ښکلا ته د بقا دوام وربخښلى دى.
په ځينو ځايونو کښې ئې شايد چې چاره نۀ وه. نوي د اقبال تراکيب ئې هم د دۀ د اصل متن په څېر په کار اچولي دي. چې د عامو لوستونکو دپاره کله نا کله د ستونځې باعث جوړېږي خو البته د لوستو وګړو دپاره ښۀ اثرات اچوي.

لږ ځير شئ د عطار د پر فلك باندې د جلال الدين بلخي رومي رهبري ده په اقبال پسې دى د شرق د ستر زېرمه خوار د پان اسلامزم د موسس سيد جمال الدين افغاني او سعيد حليم پاشاد روحونو سره ملاقات کوي، افغاني داسې وايي:

"زنـــده رود از خاكـــدان مـــا بگـــوے
از زمـــين و آســـمان مـــا بگـــوے
خـــاكي و چـــون قديســـاں روشـــن بصـــر
از مســـلمان بـــده مـــا را خبـــر" (40)

ژباړه: "وايـه زنـده روده څـۀ زمـونږه لـه خاکدانـه
وايـه څـۀ خـو تـۀ زمـونږ لـه زمکـې لـه اسـمانه
خـاوره يـې خـو سـتا د فرشـتو غونـدې نظـر دی
څـۀ دي هـم راوړی د مسـلم ملـت خبـر دی" (41)

د جاويـدنامې د منظـومې پښتـو ژبـاړې شـاعر د اميـر حمـزه خـان شينواري ژوند او آثارو ته په لنډه توګه کتنه کوو:

"ابـو المـراد اميـر حمـزه شـينواری پـه دسـمبر 1907ء کښـې د ميـر بـاز خـان پـه کـور کښـې د خېبـر د لـوارګي پـه کلي کښـې وزېږېدی. لـومړی زده کـړې ئـې د کلـي پـه مدرسـو کښـې ترسـره کـړې، وروسـته د پېښـور پـه اسلاميه کالجېټ هـائي سـکول کښـې داخـل شـو. د نهـم ټـولګي څخـه بريـالی شـو چې پـه لسـم ټـولګي کښـې ئـې د زده کـړې مربوطـه لـړۍ وشـلېده خـو پـه زده کړه د مرګ تر ورځې اخته پاته شو.

پـه بـېلا بېلـو دولتـي او غيـر دولتـي کـارونو اختـه پاتـه شـو پـه 1931ء کښـې د پـلار د وفـات وروسـته پـه طريقـت اختـه شـو او د عبدالسـتار باچـا مريـد شـو. د دغـه عبدالسـتار باچـا پـه امـر ئـې اردو شـاعري تـه شـا شـوه او پښتو شاعري ته ئې مخه کړه". (42)

پــه 1941ء کښــې د پښــتو د لــومړي فلــم "ليلٰــی مجنــون" د بــدلو او مکـالمو دپـاره بمبـۍ تـه وغوښـتل شـو دغـه راز ئـې لـومړی اثـر پـه 1937ء کښـې "تجليـاتِ محمديـه" پـر تصـوف بانـدې لـه چاپـه راووت. پـه 18 فـروري 1994ء کښې په پېښور کښې په حق ورسېدی.

زمـا خـوش قسـمتي ده چـې پـه ژونـد کښـې مـې دوه واره د دۀ پـه خـدمت کښې د حاضرۍ نېکمرغي وموندہ.

د اميـر حمـزه شـينواري نـوم د پښـتو ادبيـاتو پـه معاصـر بهيـر کښـې ډېـر لــوړ او ځلانــد حيثيــت لــري. د حمــزه څخــه د پښــتو د نــوې شــاعرۍ دور بـالعموم او د پښـتو جديـد غـزل دور بالخصـوص پيـل کېـږي. حمـزه وو چـې پښـتو شـاعري ئـې د پخـواني او کلاسـيک غالـب څخـه راويسـته او د نـوي

رمز سره ئې اشنا کړه. هم دغه سوب ۇ چې پښتنو و خپل ستر زېرمه خوار ته د پښتو غزل د بابا خطاب ورعطا کړ.

امير حمزه شينواری د پښتو يو خورا لوړ وتلی او منلی عالم، فاضل او اديب و شاعر ۇ. ګڼ شمېر کتابونه ئې ليکلي دي او د يو جامع شخصيت څښتن ۇ. ځکه خو د دۀ په ژوند کښې د دۀ پر فن او شخصيت باندې د تحقيق دپاره يوۀ څېړونکي ته د پي ايچ ډي کولو ويار وسپار شو او د دۀ په ژوند کښې هغه ته پي ايچ ډي ورکړل شوه. د امير حمزه شينواري په چاپ شوو کتابونو کښې دغه کتابونه ما ته معلوم دي:

*"ارمغان حجاز * انسان او خدایٔ * تسخير کائنات * جاوېد نامه * د حجاز په لور * د خوشحال ختټك يو شعر * د خيبر وږمې * ژور فکرونه * ژوند * غزوني * نوی پښتون * نوې څپې * يون * پروينې * کليات * جبر او اختيار(اردو) * انا (اردو) * سپېڅلي ويناوي (د نهجة البالغه پښتو ژباړه) ".(43)

د حمزه پر کلام باندې د اقبال ډېر اثرات پراتۀ دي ځکه چې يو خو دۀ د اقبال د مشهورو کتابونو "ارمغان حجاز" او "جاوېد نامه" منظومې پښتو ژباړې کړې وې. ځکه نو د حمزه پر کلام باندې د اقبال اثرات لوېدل يو فطري خبره وه. بل حمزه په خپله هم د عالمګيريت او افاقيت د فلسفې قائل ۇ. ځکه نو حمزه په پښتو شاعرۍ کښې د اقباليات موضوعات لکه خودي، همت، اميد، مرګ او ژوند، انسان کامل، وحدت ملت، د ژوند حقيقت، انسانيت، قوميت او مذهب او پر غربي تهذيب باندې نيوکې وغېره ئې ډېر په دقت سره شامل کړه.

"د حمزه د همدغه افکارو پر بنياد باندې حمزه د پښتو ادب په اقبال شناسانو کښې يو وتلی او منلی نوم لري. په ځنو ځايونو کښې خو ئې شعر د اقبال څخه ماخوذ واقع شوی دی. د دې علاوه ئې اقبال ته منظومې پيرزوينې هم وړاندې کړې دي. د اقبال د عالمګير بين الاسلامي ورورولۍ او د مرد کوهستان د هرې قبيلې د جدا جدا رسمونو د بتانو په ضد هم هغه په دوئ کښې وحدت غوښت دغه فکري تومنه وه

چې حمزه د عالګمير بين الافغانيت رنګ ورکړ او دغه د پراخې پښتونوالي نظريه د حمزه برخه شوه"(44)

**پس چه بايد کرد اې اقوامِ شرق مع مسافر**: اقبال د خپل دغه اثر لومړۍ برخه "مسافر" په 1934ء کښې او دويمه برخه "چه بايد کرد اې اقوام شرق" په 1936ء کښې وليکله او دغه اثر لومړی ځل په 1936 کښې چاپ شو. د مثنوي پس چه بايد کرد" عنوانونه په دې ډول دي:

خطاب بۀ مهر عالمتاب، حکمت کليمي، حکمت فرعوني، لااله الا الله، فقر، مرد حر، در اسرار شريعت، اشکې چند بر افتراق هنديان، سياست حاضره، حرفې چند با امت عربيهو پس چه بايد کرد اې اقوام شرق، درحضور رسال ماب.

تر پورته ذکر شوو عنوانونو لاندې اقبال د خپل عالمګير اسلامي فکر مزې ټينګ کړي دي. په دويمه مثنوي يعنې مسافر کښې اقبال د افغانستان د سفر منظوم حال کښلی دی. دغه سفر حضرت علامه د نامتو عالم سيد سليمان ندوي او سر راس مسعود په ملتيا د افغانستان د پخواني باچا اعليحضرت محمد نادرشاه په ست په اکتوبر 1933ء کښې ترسره کړی ؤ. هغه منظومه کيفيات چې دۀ په کابل غزني او قندهار کښې وئيلي دي هغه ئې را يو ځائ کړي او خپل اثر مسافر ئې ځنې ترتيب کړی په دغه مثنوي کښې دغه لاندې عنوانونه راغلي دي.

خطاب په اقوام سرحد، مسافر واردمی شود به شهر کابل و حاضر مي شو بحضور اعليحضرت شهيد، برمزار شهنشاه بابر خلد اشيان، سفر غزني و زيارت مزار حکيم سنائي، روح حکيم سنائي از بهشت برين جواب مي دهد پر مزار سطان محمود عليه الرحمة مناجات، مرد شوريده، درويرانه غزني، قندهار و زيارت خرقه مبارك، غزل بر مزار حضرت شاه بابا عليه الرحمة موسس ملت افغانيه خطاب به بادشاه اسلام اعليحضرت محمد ظاهر شاه.

د اقبال د دغه فارسي اثر پښتو منظومه ژباړه هم سيد محمد تقويم الحق کاکاخيل صاحب کړې او اقبال اکادمي کراچې د پېښور د پښتو

اکېډمي پـه وسـاطت لـومړی ځـل پـه جـون 1969ء کښـې چـاپ کـړې ده. پـېش لفـظ ئـې سـيد رسـول رسـا او پلوشـه ئـې قلنـدر مومنـد کښـلې ده. د دغـه ژباړې په باب د قلندر مومند نظر د احترام وړ دی. دی کاږي چې:

"د ښـاغلي تقـويم الحـق کاکاخېـل دې ترجمـې تـه کـه د دې زاويـې نـه وکتـل شـي چـې دا د علامـه د اهـم تـرين شـعري دسـتاوېز ترجمـه ده نـو ځکـه د ترجمـې دپـاره هـم د هغـۀ پـای د درونـدوالي ضـرورت دی کومـه چې پـه اصـل کښـې ده. نـو دا بـه هـم د متـرجم نـه يـو نـاممکن څيـز مطالبـه وي بايـد چـې ګـران لوسـتونکي د معاصـرانه فکـر پـه تـاريخ کښـې د علامـه مقـام او پښـتو ژبـه کښـې د فلسـفيانه خيـالاتو د اظهـار مشـکلات هـر وخـت د نظـر لانـدې سـاتي او هيلـه پـه داسـې کولـو پـه هغـوئ د دې ترجمـې پـه قـدر و قيمـت واقـف شـي پـه دې ترجمـه کښـې چـې کـوم څيـز زيـات د خوښـېدو او قـدر قابـل دی هغـه د مثنـوي دپـاره دپښـتو د متبـادل صـنف "بـدلي" بحـر دی خـو د ښـاغلي تقـويم الحـق کاکاخېـل اسـتعمال شـوی بحـر او د عـامو پښـتو بـدل بحـر کښـې دا يـو فـرق دی چـې د پښـتو د عـامې بـدلې عـام طـور سـره دوولـس سـېلاپيز بحـر کښـې ليکلـی شـي او دا مثنـوي يـوولس سـېلابيز مصـرعو کښـې ليکـل شـوې ده. اګرچې ځـاۍ پـه ځـاۍ پـه کښـې دوولـس سـېلابيز مصـرعې هـم شـته. د دې مشـکلات يـو عـلاج زمـا پـه خيـال کښـې دا هـم کېـدای شـي چـې کـوم ځـاۍ کښـې د قـافيې مشـکل مخـې لـه راځـي هلتـه کـه دوولـس سـېلاب نـه پـس يـو حـرف علـت زيـات کـړی شـي نـو د مصـرعې وزن د عامو بدلو وزن سره يو کېدای شي.

ځنـو ځنـو ځـايونو کښـې ترجمـه د پښـتو محـاورې سـره داسـې سـمون خـوري چـې د ترجمـې نـه زيـات طبعـزاد او تخليـق ښـکاري. د دې وجـه د متـرجم د فنکارانـه صـلاحيت نـه عـلاوه دا هـم کېـدای شـي چـې اول خـو د فارسـي او پښـتو تـر مينـځ ډېـرې محـاورې او الفـاظ مشـترك دي او دويـم دا هـم چـې اقبـال بنيـادي طـور سـره د ژبـې نـه بلکـې د خيـال شـاعر دی او د داسـې شـاعر تـه چـې متـرجم دپـاره ډېـر مشـکلات نۀ پيـدا کـول سـيوا د هغـو مقـامونو نـه چـې خيـالات پـه کښـې د متـرجم د ژبـې د اولـس او د فکـر او

پوهې نه اوچت وي او ځکه زۀ هيله لرم چې ګران لوستونکي به دغو مقامونو کښې د مترجم د مشکلاتو خيال وساتي"(45).

په دغه ژباړه کښې د اصل برعکس لومړی د مسافر مثنوي راغلې او وروسته د پس چه بايد کرد اې اقوام مشرق مثنوي راغلې ده. حضرت علامه اقبال په غزني کښې د حکيم سنائي پر مزار ولاړ دی د هغه و لوړ عرفاني روحاني شخصيت ته خپل احترام په دې ډول څرګندوي:

"از نواز شهائې سلطان شهيد
صبح و شامم صبح و شام روز عيد
نکته سنج خاوران هندی فقير
مهمان خسرو کيوانِ سرير" (46)

ژباړه: "د شهيد سلطان له مهره له نظر
شپه او ورځ مې شپه او ورځ ده د اختر
د مشرق نکته شناس هنري فقير
او مېلمه د شهنشاه کيوان سرير" (47)

دغه مسافر چې قندهار ته را ورسېږي د دواړو کونو د سردار د خرقې زيارت کوي او د لوئ قندهار د تاريخي فرهنګ او مړانې داسې ستاينه کوي:

"قندهار آن کشور مينو سواد
اهل دل را خاک او خاک مراد
رنګ ها بو ها هوا ها آب ها
آب ها تابنده چون سيماب ها" (48)

ژباړه: "قندهار بشکلی وطن رنګين سواد
د هر ځائ خاوره ئې خاوره د مراد
هواګانې خوشبويانې او چينې
ځلنده لکه پاره لکه ائينې" (49)

**ارمغان حجاز**: ارمغان حجاز د علامه هغه شعري اثر دی چې ژور ديني او مذهبي افکار په کښې بيان شوي دي. د علامه د پېغمبرِ اسلام، شاه دو جهان حضرت محمد ص د غرقي مينې خوندوري بېلګې په کښې دي. دغه کتاب علامه د خپل ژوند په پای کښې مرتب کړ. خو د دۀ د مرګ څو مياشتې پس په نومبر 1938ء کښې له چاپه راووت. لومړۍ برخه ئې فارسي او دويمه برخه ئې اردو ده. د دغو دواړو ژبو په د کلياتو په پای کښې د ارمغان حجاز خپله خپله برخه راغلې ده.

د يوې لوړې پايې مفکر او شاعر چې کله د خپل پاخۀ عمر د علم او فکر په وسعتونو او تجرباتو، مشاهداتو له کثرت څخه راتېر شي بيا د خپل فکر د پوخوالي او تخيل د پرواز و انتها ته را ورسېږي خو هلته ئې بيا قوتِ حافظه او ذهني قواوې مخ په ځوړ شي. په نتيجه کښې ئې شاعر زياتره د اوږدو اوږدو نظمونو څخه راوګرځي او خپل احساسات په څلوريځو او مقطوع کښې بيانوي. اقبال هم له دغه کيفيت سره مخامخ شوی دی.

خو لکه څنګه چې د کتاب د نامۀ څخه جوته ده د حجاز د مينې اندېښنو ډېر مغلوبه کړی دی. د حبيب د روضې د ديدار شوق شاعر ټول عمر کړولی دی. د رسول الله عشق خو ئې په رګ او رېشه کښې نغښتی دی. په دغه عمر کښې ئې فلسفه او خرد ټول د رسول الله د عشق تابع شوي دي. ارمغان حجاز د هغو اندېښنو او ارمانونو څخه ډک دی چې د اقبال د شاعرۍ خلاصه، لب لباب او د رسول الله د عشق او اطاعت د څرګندونې ښکارندوئ دی.

د ارمغان حجاز د دواړو برخو اردو او فارسي منظومه پښتو ژباړه د پښتو غزل بابا امير حمزه خان شينواري کړې ده چې لومړی ځل د پښتو اکېډمي پېښور په مرسته د اقبال اکېډمي له خوا په 1964ء کښې چاپ شو.

دلته د بېلګې په توګه د علامه څنې څلوريځې سره د پښتو منظومې ژباړې د ارمغانِ حجاز څخه را اخلو.

"ندانم گرچه آهنگ عرب را
شريك نغمه هائې ساز بانم" (50)

ژباړه: " څـو کـه د عربــو لــه آهنګــه خبــر نــهٔ يــم
بيـا هـم زهٔ شـريك يـم پـه نغمـه کښــې د سـاروان" (51)

دريـــن وادی زمـــانی جـــاودانی :: زخـــاکش بـــې صـــور رويـــد معـــانی
حکيمـان پـر کليمـان دوش بـردوش :: کـه ايـن جـا کـس نګويـه او لـن ترانـی" (52)

ژبـاړه: "ښــکاري دي کســي کښـــې زمـــانې جـــاوداني
خېـــژي ئـــې لـــه خـــاورو بـــې صـــورته مغـــاني
دلتـــه خـــوا پـــه خـــوا دی حکيمـــان او کليمـــان
څکـه چـې څـوك نـهٔ وائـې بېخـي لـن ترانـي" (53)

د حمـزه شـينواري د ژونـد او آثـارو پـه بـاب يادونـه د جاوېـد نـامې پـه ضمن کښې وشوه.

## حوالې

(1) رفيقـي، عبـدالرؤف، ډاکټـر، (ژبـاړه) د اقبـال ژونـد، اقبـال اکېډمي پاکسـتان، 2007ء مخ 67.
(2) لکه د محراب ګـل افغـان کـی افکـار، پـه جاوېدنامـه کښـې د افلاکـو د سير پـر وخت د بېلابېلـو پښـتنو علمـي، جهـادي او ملـي رجـالو او مفـاخرو سـره ملاقاتونـه، هـم دا ډول پـه مثنـوي مسـافر کښـې د افغانسـتان د سيل پـر وخـت د پښـتنو د خـاورې او خلقـو پـه بـاب د دهٔ درانهٔ افکار.
(3) خادم، قيام الدين، کابل مجله، جنوري، فروري، 1937ء، مخ 89.
(4) ) عبدالرؤف، رفيقي، ډاکټر، (ژباړه) د اقبال ژوند، مخ 67.
(5) رفيقي، عبدالرؤف، ډاکټر، اقبال او پښتو شاعري،
(6) رفيقـي، عبـدالرؤف، ډاکټـر، اقبـال او پښـتو شـاعري، اقبـال اکـادمي لاهـور، پاکستان، طبع اول، 1978ء، مخ 305.
(7) علامــه، اقبــال، اســرارِ خــودی، کليــات اقبــال فارســی، شــېخ غــلام علــي اينــډ سنز، طبع ششم، 1990ء، مخ 13.
(8) علامــه، اقبــال، اســرارِ خــودی، پښــتو ژبــاړه، شــبر محمــد مينــوش، اقبــال اکادمي، کراچي، پاکستان، 1952ء، مخ 55.

(9) علامه، اقبال، اسرارِ خودی، کلیات اقبال فارسی، مخ 8.
(10) اسرارِ خودي، پښتو ژباړه، شېرمحمد مينوش، مخ 42.
(11) ايضاً
(12) علامه، اقبال، اسرارِ خودی، کلیات اقبال فارسی، مخ 21.
(13) اسرارِ خودي، پښتو ژباړه، شېرمحمد مينوش، مخ 76.
(14) ايضاً، مخ 66.
(15) عبدالرؤف بېنوا ، اوسني ليکوال، دويم ټوك، دولتي مطبعه کابل، 1341 ه ش، مخ 661.
(16) همېش خليل، پښتانۀ ليکوال، لومړی ټوك، پبلك آرټ پريس پېښور، 1958ء مخ 25.
(17) مياشتنۍ پلوشه، کراچۍ، جون 1990ء مخ 66.
(18) مياشتنۍ اولس، کوټه، جنوري، فروري 1990ء مخ 38.
(19) سمندر، سمندر خان، د توحيد ترنګ، پښتو اکېډمي پېښور، 1986ء، مخ 10.
(20) خليل، همېش، د قلم خاوندان، پښتو اکېډمي، پېښور، 1999ء. مخ 450.
(21) رفيقي، عبدالرؤف، (ژباړه) د اقبال ژوند، مخ 67.
(22) عبدالله، ډاکټر، مقامات اقبال، لاهور، چاپ، 1961ء، مخ 69.
(23) عبدالله، ډاکټر، مطالعه اقبال کے چند نئے رخ، بزم اقبال لاهور، 1984ء ص 202.
(24) اختر راهی، (مرتب) اقبال سید سلمان ندوئ کی نظر میں، بزمِ اقبال، لاهور، طبع اول، 1978ء ص 52.
(25) علامه اقبال، رموزِ بېخودی، کلیات فارسي شيخ غلام علی اينډ سنز، طبع ششم، 1990ء، مخ 101.
(26) علامه اقبال، رموزِ بېخودي، پښتو ژباړه شېرمحمد مينوش، اقبال اکادمي کراچي، پاکستان، 1952ء مخ 48.
(27) رفيقي، عبدالرؤف، اقبال او پښتو شاعري، مخ 318.
(28) علامه اقبال، پيامِ مشرق، کليات فارسي، مخ 16.
(29) علامه اقبال، پيام مشرق پښتو ژباړه، اقبال اکادمي، د پښتو اکېډمۍ په مرسته، 1983ء، مخ 2.
(30) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، لومړی ټوك، پبلك آرټ پريس پېښور، 1978ء مخ 212.
(31) حبيب الله رفيع، پښتو کتابښود، کابل، 1356ه ش، مخ 91.

(32) خليل، همېش، د قلم خاوندان، مخ 450.
(33) علامه اقبال، زبورِ عجم، کلياتِ فارسی، مخ 18.
(34) زبورِ عجم، پښتو ژباړه، سيد تقويم الحق کاکاخېل، اقبال اکادمي، په وساطت د پېښور اکېډمي، طبع دويم، 1983ء، مخ 16.
(35) علامه اقبال، زبورِ عجم، فارسي کليات، مخ 96.
(36) زبورِ عجم، پښتو ژباړه، سيد تقويم الحق کاکاخېل، مخ 16.
(37) خليل، همېش، د قلم خاوندان، مخ 450.
(38) فرمان مسافر، اخونزاده، ځلنده ستوري، مکتبه اباسين، هشنغر چارسده، 1984، مخ 419.
(39) خليل، همېش، د قلم خاوندان، مخ 90.
(40) علامه اقبال، جاويدنامه، کليات فارسي، مخ 63.
(41) جاوېدنامه، پښتو ژباړه، اقبال اکادمی کراچي، مخ 1967ء مخ 67.
(42) خليل، همېش، د قلم خاوندان، مخ 13.
(43) رفيع، حبيب الله، پښتو کتابښود، مخ 91.
(44) رفيقي، عبدالرؤف، اقبال او پښتو شاعري، مخ 360، 361.
(45) علامه اقبال، مثنوی پس چه بايد کرد، ايپې اقوامِ شرق، مع مسافر، پښتو ژباړه، سيد تقويم الحق کاکاخېل، اقبال اکادمی په مرسته د پښتو اکېډمي، 1969ء، مخ د.
(46) علامه اقبال، مثنوی پس چه بايد کرد، ايپې اقوامِ شرق، مع مسافر، کليات فارسي، مخ 67.
(47) مثنوي ...... پښتو ژباړه، سيد تقويم الحق کاکاخېل، مخ 19.
(48) علامه اقبال، مثنوي ...... مخ 750.
(49) مثنوي ..... پښتو ژباړه، سيد ..... مخ 29.
(50) علامه اقبال، ارمغان حجاز، کليات فارسی، اقبال اکادمی کراچي، په وساطت پښتو اکېډمی، 1964ء، مخ 30.
(51) ارمغان حجاز. پښتو ژباړه، اقبال اکادمی، کراچی، مخ 35.
(52) علامه اقبال، ارمغانِ حجاز، کليات فارسی، مخ 30.
(53) ارمغانِ حجاز، پښتو ژباړه، مخ 35.